د کرنیـزې پرمختیـا صنـدوق
صندوق وجهی انکشاف زراعتی
AGRICULTURAL DEVELOPMENT FUND

د کرنیـزې پرمختیـا صنـدوق
صندوق وجهی انکشاف زراعتی
AGRICULTURAL DEVELOPMENT FUND
ADF



# وکالـه

وکاله هغه تړون ته ویل کیږي چې کله یو شخص (مؤکل) بل شخص (وکیل) د یو مشروع او قانوني فعالیت د اجرا لپاره وګوماري.

وکاله کې عوض اخیستل شرط نه دي، مطلب یو وکیل کولی شي بدون له عوض د یو چا د کار د اجرا کولو مسولیت ومني او همدارنګه د خپل کار په مقابل کې حق الزحمه هم غوښتلی شي.

## په وکاله کې د ګټې اندازه

د کرنیزي پرمختیا صندوق د تجارت نوعیت، ظرفیت، او خطراتو له ارزیابۍ وروسته خپل مفاد د ٦٪ څخه تر ١٥٪ پورې ټاکي.

د مثال په ډول: صندوق یو سوداګر خپل وکیل ټاکي ترڅو د صندوق په وکالت د هیواد له بزګرانو څخه د یو میلیون افغانیو په قیمت زعفران وپیري، او په بازار کې یې په لس سلنه ګټه باندې وپلوري، نو وکیل مکلف دی چې اصل مبلغ جمعه ګټه صندوق ته وسپاري.

که چېرته وکیل وکولای شول چې یاد جنس له ټاکل شوي نرخ څخه په لوړه بیه وپلوري نو ترلاسه شوې اضافه ګټه وکیل ته ورکول کیږي. د مثال په ډول: که یاد جنس له ټاکل شوي نرخ چې یو میلیون او سل زره افغانۍ دی په لوړه بیه وپلوري نو اضافه ترلاسه شوې ګټه وکیل ته ورکول کیږي.

020 250 48 35
0731 77 77 88
www.adf-af.org
info@adf-af.org
ADFafghanistan



## د وکالې محصول د ترلاسه کولو شرطونه

۱ مالي تمویل غوښتونکی باید د افغانستان تابعیت ولري.
۲ د مالیې ورکړې پېژندنې شمېره (TIN) ولري.
۳ له اړونده څانګې یا اداري کاري جواز ولري.
۴ کرنیزه سوداګرۍ کې لژ تر لږه یو کال کاري تجربه ولري.
۵ په غیر قانوني کړنو کې ښکیل نه وي.
۶ کاروبار یې غیر شرعي او غیر قانوني نه وي.
۷ د تیر کال مالی راپورونه ولري.
۸ د تضمین لپاره جایداد ولري.

## د پیسو د بیرته ورکړې پروسه

د پیسو بېرته ورکړه د مشتري او صندوق ترمنځ د ګډ تفاهم له لارې د سوداګرۍ یا فعالیت په نظر کې نیولو سره ټاکل کیږي.

**د مثال په ډول:**

د صندوق وکیل د وچې مېوې تجارت کوي او دا مېوه د هېواد بهر ته صادروي او بیا هلته په خرڅلاو رسیږي نو طبیعي ده چې وخت نیسي، په همدې اساس صندوق مشتري ته یو، دوه یا هم درې جریانه (Business Cycle) په نظر کې نیسي ترڅو وکولای شي چې اصلي مبلغ جمعه ګټه په اسانۍ سره میاشتني، ربعوار او یا هم په یو وار بېرته د صندوق بانکي حساب ته جمع کړي.

**د مثال په ډول:**

احمـد د خپـل زيات مصروفيت له امله نشي کولای چې بـازار ته ولاړ شي، نو محمود وکيل ټاکي ترڅو د ده لپاره له بازار څخه اجناس وپيري. که محمود (وکيل) له احمد (مؤکل) څخه د دغه کار لپاره پيسې وغواړي د شريعت له اړخه کومه ستونزه نه لري.

## د وکالـې کړنلاره



د کرنيزې پرمختيا صندوق خپلو مشتريانو تـه د وکالـې محصـول لـري، پـه دې محصول کې به مشـتري د صندوق وکيل وي او د صنـدوق په پيسـو بـه کرنيز توکي پـيري او بيـا به يـې بازار کې د تمام شـوې قيمت څخه په لوړه بيه پلوري.

**د مثال په ډول:**

که مشتري سل کيلو وچه ميوه په دېرش زره افغانـۍ وپيري بيرتـه يې بايد په داسې قيمـت وپلوري چـې تاوان ونکـړي، خپل مصـارف، خپل ځان او صندوق لپاره ګټه پکـې وسـنجوي او بيـا يـې پـه هغـه نرخ وپلـوري، په دې صورت کې بايد په دېرش زره افغانيو پېرل شوې وچه ميوه په پنځه دېرش زره افغانيو وپلوري ترڅو خپله او د صندوق ګټه دواړه پوره کړای شي.